Allemansrätten

# طبیعت ته د لاسرسي حق - یوه نادره موقع



© FELIX OPPENHEIM/FOLIO




## طبیعت ته د لاسرسي حق ټولو خلکو ته په طبیعي سیمو کې د ګرځېدو یوه غوره موقع ورکوي.

کله چې تاسو په ځنګل کې چکر وهئ، کشتۍ زغلوئ او په یوه ډبره پورته کېږئ یا هلته کښېنئ او د تخیل آسونه زغلوئ نو په دغه ټولو وختونو کې د طبیعت ته د لاسرسي حق څخه ګټه پورته کوئ.

اکثره دا حق موږ ته یو عادي او طبیعي کار ترسترګو کېږي. د دې لپاره چې ټول خلک د طبیعت څخه خوند او ګټه پورته کړي په کار ده چې طبیعت او ژویو ته پاملرنه وکړو او د زمکې څښتن او په چکر وتلي نورو خلکو ته په درنه سترګه وګورو.

موږ کولای شو چې دا په دې ټکو کې راونغاړو یعنې د مزاحمت او ورانکارئ څخه ډډه!

## په چکر وتل، باسیکل زغلول، په آس سپرېدل

موږ د یو غوره فرصت څخه برخمن یو ترڅو په طبیعي سیمو کې وګرځو او بېلابېل تفریحي فعالیتونه ترسره کړو. موږ د سوېډن وګړي د آزادې فضا او طبیعت سره ډېره لیوالتیا لرو. د دې لپاره چې ټول خلک د طبیعت څخه خوند واخلي ځینې تدابیر په نظر کې نیول شوي چې باید ورته پام وګرځول شي:

- پام وکړئ چې بوټو، نوي کرل شوي ځنګلونو او یا بل ډول حساسي زمکي ته زیان پېښ نه کړئ
- د سیمې اوسیدونکو ته مزاحمت پیښولو څخه ډډه کولو لپاره د چا د کور په غولي مه تېرېږئ او نه هلته دمه کېږئ. د سیمې اوسیدونکي حق لري چې پرته د مزاحمت خپل ژوند وکړي.
- پام وکړئ چې د زمکي د څښتن په کار او کسب کې خنډ پیدا نه کړئ
- په طبیعي زمکو کې د آس او باسیکل زغلولو په وخت زمکي ته د زیان رسېدو وېره وي. پام وکړئ چې په نرمو او نازکه زمکو، د زغاستې په لارو، د اسکي یا د چکر وهلو په لارو کې آس یا باسیکل ونه زغلوئ.
- که چېرې تاسو د بندو ورشو څخه تېرېږئ نو پام وکړئ چې څارویو ته مزاحمت پېښ نه کړئ او یا کټارې ته زیان ونه رسوئ. دروازه ځان پسې بنده کړئ ترڅو څاروي بهر خوشې نه شي.

## کمپنګ

تاسو کولی شئ چې کومه شپه په طبیعت کې تېره کړئ!

پام وکړئ چې په مناسب ځای کې خیمه ودروئ یعنې د زراعتي زمکې او د کورونو څخه فاصله وساتئ. څومره چې نورو خلکو ته د مزاحمت پېښېدو وېره وي هماغومره د اجازې غوښتلو اړتیا شتون لري. د کاروان موټر سره په آزاده فضا کې کمپنګ په وخت نورو ته پام ګرځول لاپسې ډېر اهمیت لري. دا ډول کمپنګ په طبیعي زمکو کې د موټر چلولو قانون تابع وي.

## خپل کثافات له ځانه سره یوسئ

موږ د کثافاتو څخه پاک یو پاک او سوچه طبیعت هیله لرو. نو له دې لامله خپل کثافات له ځانه سره یوسئ. شیشه، بوتلونه، پلاستکي کڅوړې او د بوتل سرپوښونه امکان لري انسانانو او ژویو ته زیان ورسوي. نو ځکه د یوې ډکې کثافتدانۍ ترڅنګ خپله د کثافاتو کڅوړه مه پرېږدئ.

## اور لګول

په آزاده فضا کې اور لګول زموږ د آزادې فضا ژوند لاپسې ښکلی کوي او تاسو اجازه لري چې په طبیعت کې اور بل کړئ. خو اور لګول ډې ی د زمکو څښتنان د تشویش سره مخامخ کوي ځکه چې هر کال د اور لګولو په وخت د بې احتیاطۍ له کبله ارزښتناکه ځنګلونه د اور ښکار ګرځي.

د دې لپاره چې د اور خپرېدلو مخه ونیول شي ځینې تدابیر په نظر کې نیول شوي چې باید ورته پام وګرځول شي:

- که چېرې د اور خپرېدو لړه وېره هم شتون لري نو اور مه بلوئ - په وچ موسم کې اکثره په اور لګولو باندې بندیز لګېدلی وي.
- داسې یو ځای غوره کړئ چېرې چې د اور خپرېدو وېره موجوده نه وي.
- پام وکړئ چې د غره بیخ کې ډبرو د پاسه یا ورسره نږدې اور بل نه کړئ. ځکه چې د اور له کبله ډبرو کې چاودونه پیدا کېږي او نه رغېدونکی زیان مومي.
- د اور بلولو څخه وروسته اور په سمه توګه مړ کړئ.
- د نغري او سکرو په شکل کې د اور هیڅ ډول آثار ځان پسې مه پرېږدئ.





© TORBJORN SKOGEDAL/FOLIO

## ګلان، توتان، خرېړې او ځانګې راټولول ...

تاسو اجازه لرئ چې ګلان، توتان، خرېړې، وریجې او په زمکه غورځېدلې ځانګې راټولې کړئ.

د دې لپاره چې ټول خلک د طبیعت څخه خوند واخلي ځیني تدابیر په نظر کې نیول شوي چې باید ورته پام وګرځول شي:

- پام وکړئ چې ځیني بوټي خوندي شمېرل شوي دي او دا راز بوټي باید ونشکول شي. د خوندي شمېرل شویو بوټو په اړه نور مالومات د ولایتي شورای څخه ترلاسه کړئ. د ارکیډې ګل په ټول هیواد کې خوندي شمېرل شوی دی.
- پام وکړئ چې د تازه نیالګیو ځانګې، شاخونه او پوستکي شکولو څخه ډډه وکړئ ځکه چې امکان لري تلپاتي زیان ومومي.

## سپي

طبعاً تاسو سپي هم طبیعي سیمو ته له ځانه سره وړلای شئ. د مارچ لومړۍ نیټې څخه د اګست ۲۰ نیټې پورې ژوي په حساسه شیبه کې شتون لري نو سپي باید په آزاده توګه ونګرځي. د کال په نورو وختونو کې هم باید سپي د څارنې لاندې وساتئ ترڅو نورو ژویو او انسانانو ته مزاحمت یا زیان پیښ نه کړي. د هیواد په ځینو برخو کې سپي باید همیشه تړلي وي.



© SHUTTERSTOCK



© JEPPE WIKSTRÖM/JOHNÉR

## لمبا او کښتۍ

طبیعت ته د لاسرسي حق دواړه په اوچه او اوبو کې اعتبار لري. تاسو کولی شئ چې په ساحلي سیمو کې لمبا وکړئ، تقریباً هر ځای کې کښتۍ وچلوئ، لنګر واچوئ او شپه نیمه په کښتۍ کې تېره کړئ. د اوچې په څېر دلته هم باید چاپیریال ته پام وکړځول شي. یعنې د مزاحمت او تخریب څخه ډډه.

د دې لپاره چې ټول خلک په اوبو او د اوبو ترڅنګ د طبیعت څخه خوند واخلي ځیني تدابیر په نظر کې نیول شوي چې باید ورته پام وګرځول شي:

- پام وکړئ چې د بل چا کور کې شاملې زمکې سره لنګر وانچوئ او یا زمکې ته داخل نشئ او یا هغه ځای کې چېرې چې د ننوتلو بندیز وي، د بېلګې په توګه د مرغیو او د اوبو خوګ خوندي ځایونو کې.
- تاسو اجازه لرئ چې د لنډې مودې لپاره د بل چا لنګرګاه کې لنګر واچوئ خو په دې شرط چې څښتن ته یې خند جوړ نه شي. خو طبعاً که چېرې د څښتن د کور برخه نه وي. ښه به دا وي چې د ملکیت څښتن سره اړیکه ټینګه کړئ.
- په ځیني ځایونو کې امکان لري ځانګړي مقررات شتون ولري مثلاً د سرعت محدودیت او یا د ننوتلو بندیز.
- پام وکړئ چې ماشین لرونکي کښتۍ باید د نورو کښتیو په پرتله د لازیاتې پاملرنې څخه کار واخلي.

## ښکار او کبان نیول

ښکار او کبان نیول د طبیعت ته د لاسرسي حق کې شامل نه دي. خو تاسو په آزادانه ډول د کبانو نیولو لکړې او د نورو لاسي وسایلو په مرسته په ساحلي سیمو کې او د هیواد ترټولو سترو سمندرګیو کې چې عبارت دي د وینرن، ویټرن، میلارن، هیالمارن او ستورخون څخه، کبان ونیسئ.

په نورو اوبو کې کبان نیولو لپاره باید د کبانو نیولو کارت یا بل ډول اجازه ولرئ. د سویډن شمالي ساحل، لویدیځ ساحل او د سکونی سویلي ساحل ترڅنګ په نورو دودونو د کبانو نیولو اجازه هم ورکول کېږي. خو پرته له دې د سویډن شمالي ساحل ترڅنګ د جال په وسیله، د یخ پر سر، د کښتۍ څخه د جال راکشولو په واسطه او د کښتۍ څخه کبان نیول د آزادنه کبانو نیولو حق کې شامل نه دي.

د دې لپاره چې ټول خلک د طبیعت څخه خوند واخلي او طبیعت ته زیان ونرسېږي ځیني تدابیر په نظر کې نیول شوي چې باید ورته پام وګرځول شي:

- پام وکړئ چې کوم ځای کې چې تاسو د کبانو نیولو هوډ لرئ د هغې ځای د مقرراتو څخه ځان خبر کړئ.
- په طبیعت کې تارونه او چنګک مه پرېږدئ ځکه چې امکان لري د ژویو د مرګ ژوبلې سبب وګرځي.
- د ژویو ژالې او کوچنیان په امان کې پرېږدئ.
- د مرغانو هګۍ پورته کول منع دي ځکه چې دا هم ښکار ګڼل کېږي. ټول وحشي ژوي او مرغان د حفاظت او خوندیتوب لاندې دي. ښکار باید د ښکار فرمان مطابق تطبیق شي. ټول هغه راز ژوي چې د نابودتیا سره مخامخ دي خوندي شمېرل کېږي د مثال په توګه ماران او چونګښې.



© JOHAN PERSSON/FOLIO


© TERJE RAKKE/FOLIO

## منظم چکر

د سیاحت ځانګه او نور ډولونه منظم چکر ترتیبونکي د خورا زیاتو فرصتونو څخه برخمن دي ترڅو د بېلابېلو فعالیتونو لپاره د طبیعت ته د لاسرسي حق څخه ګټه پورته کړي. د طبیعت ته د لاسرسي حق څخه په تجارتي سطح او په ډلییزه توګه ګټه پورته کیدی شي. البته د منظم چکرونو ترتیبونکو باندې د نورو خلکو ملکیت څخه ګټه پورته کولو لپاره ګڼ شمېر سخت شرایط اېښودل کیږي.

- ضروري مالومات راټولول
- مناسب ځای غوره کول
- د خوندیتوب او امنیت تدابیر عملي کول
- ګډونوالو ته د طبیعت ته د لاسرسي حق په اړه مالومات وړاندې کول.

ترټولو ښه به دا وي چې ترتیبونکی د فعالیتونو پیلولو څخه مخکې د ملکیت څښتن، کمون او د ولایتي شورای سره اړیکه ټینګه کړي.



© ANNIKA RIDINGTON-BRODÉN/FOLIO

## ګڼې آبادۍ ته نږدې طبیعي سیمې

طبیعت ته د لاسرسي حق ګڼې آبادۍ ته نږدې طبیعي سیمو که لا ډېر اهمیت لري. دا خلکو ته موقع ورکوي چې کور ته نږدې او د سفر کولو پرته د طبیعت څخه خوند واخلي. په ګڼو آبادو سیمو کې اکثره ګڼ شمېر خلک یو بل ته نږدې او ځینې وختونه په تنګو ځایونو کې میشت وي. طبیعت ته د لاسرسي حق موږ ټولو ته آسانتیا برابروي چې طبیعت ته په پام سره او د ځمکې خرابولو او نورو سره د جنجال پیدا کېدو پرته په طبیعي سیمو کې شتون ولرو.

## په طبیعي سیمو کې موټر ګرځول اجازه نه لري

طبیعت ته د لاسرسي حق کې موټر ګرځول شامل نه دي. په طبیعي ځمکو کې د موټر چلولو قانون له مخې په طبیعي سیمو کې په بربنډه ځمکه د موټر، موټرسایکل او نورو ډولو نقلیه وسایطو چلول منع دي.

په اختصاصي لارو کې چې د عامه ترانسپورټ لپاره بندې وي، هم د ماشین لرونکو نقلیه وسایطو چلول منع دي. دا ډول بندیز د لوحو په مرسته مشخص شوی وي.

## خوندي طبیعت

په ملي پارکونو، طبیعي زیرمو، ناتورا 2000 سیمو یا نورو خوندي سیمو کې نور ځانګړي مقررات نافذ وي. ځینې وختونه طبیعت ته د لاسرسي حق محدود او ځینې وختونه پراخه وي.  دا راز مالومات د پارکولو وغیره په دروازو کې شتون لري.



© CECILIA HALLIN/FOLIO

## نور مالومات

www.naturvardsverket.se/allemansratten

NATURVÅRDSVERKET
ISBN 978-91-620-8768-5



**که چېرې نور مالومات غواړئ**

د طبیعت ته د لاسرسي حق په اړه نور مالومات په دې ویبپاڼه کې لوستلی شئ www.naturvardsverket.se/allemansratten

تاسې د خپل استوګنې کمون یا د ولایتي شورای سره هم اړیکه نیولای شئ.

© MATTON COLLECTION/JOHNÉR

106 48 Stockholm. www.naturvardsverket.se/allemansratten د ټیلیفون شمېره: ۰۱۰ - ۶۹۸۱۰۰۰

NATUR VÅRDS VERKET